**دعملیاتي فعالتیونو د ترسره کولو لپاره معلوماتي سیستمونه تطبیقول، یوه لازمه او ضروري غوښتنه او اړتیا ده؛ چې د معلوماتي سیستمونو په منځته راتګ سره فعالیتونه منظم او پر وخت سره سرته رسیدای شي. د معلوماتي سیستمونو استعمال په هر نهاد او سازمان کې حیاتي رول لري او دا سیستمونه معلومات په منظم ډول او سرعت سره په سیستم کې ثبتوي او د بیا استعمال لپاره یې په کارونو کې تیزوالی رامنځته کوي. د معلوماتي سیستم په برخه کې به میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د HEMIS، HRMIS او HELMIS او د کتابتون اړوند سیستمونه تطبیق او رامنځته کړي؛ چې په مرسته به یې د ټولي اداري معلومات په منظم ډول سره ثبت او دفعالیتونو په برخه کې به ورڅخه استفاده وکړي .**

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| د بیروکراسي د کمولو لپاره معلوماتي سیستمونه جوړول | د HEMIS غوره تطبیق<br>د HRMIS غوره تطبیق<br>د HELMIS غوره تطبیق<br>د کتابتون د کتابونو لپاره د منظم ډیټابیس جوړول | د سرورونو آماده کول<br>سیستم Configure کول |

**9. د ملي او بین لمللي پوهنتونونو سره د علمي او کلتوری ګډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیکول:**

**د اړیکو پیاوړی کول او د نوی اړیکو ټینګول د زابل د لوړو زده کړو مؤسسې په لومړیتوبونو کښی قرار لری په خاصه توګه د تحصیلی نهادونو او سکتوری برخو سره او په دی برخه کښی لا د وړاندی تر یوه بریده پرمختګ شوی دی ولی د مؤسسې د ضرورتونو ته په کتو باید چی په شته اړیکو بسنه ونه کړو بلکی نوری اړیکی ټینګی او دا لړی روانه وساتو، چی همدی ته په کتو سره میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه خپل د اړیکو راتلونکی چوکاټ په لاندی ډول تعرفوی.**

**کړني:**

1. **د پکتیا پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یو تفاهم لاسلیکول.**
2. **د ننګرهار پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یو تفاهم لاسلیکول.**
3. **د کابل پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یوه تفاهم لاسلیک شوی دي.**
4. **د هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې سره د ګډو همکاریو د یوه تفاهم لاسلیکول.**
5. **د هند هیواد Indian Agricultural Research Institute یا IARI پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یوه تفاهم لاسلیکول.**
6. **هرات پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یوه تفاهم لاسلیکول.**
7. **د کابل افغان نړیوال پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یوه تفاهم لاسلیکول.**
8. **د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یوه تفاهم لاسلیکول.**
9. **همدارنګه پلان لرو چې په راتکونکو کلونو کې نورو پیاوړو بهرنی پوهنتون سره تفاهم لیک لاسلیک کړو.**
10. **د افغانستان کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون سره .**
11. **د زابل ولایت د اقتصاد ریاست سره.**
12. **د زابل ولایت کرنی ریاست سره.**
13. **د زابل ولایت د پوهني ریاست سره.**
14. **د زابل ولایت د ښاروالي ریاست سره.**

## 10. لوړو زده کړو ته لاسرسی:

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د ولایت او هیواد د ضرورتونو په نښه کول او په تحصیلی ډګر کښی د هغوی لپاره د مسلکی بشری ځواک روزل د خپلو مسؤلیتونو څخه بولی، چی د همدی مسؤلیت په درک کولو سره غواړی چی د مؤسسې چوکاټ کښی د نورو پوهنځیو او څانګو په ایجاد سره شته خالیګاوی ډکی او د یوه بامسولیته اداری په ډول کردار ادا کړی.**

**لمړی اړتیا: د محصلانو لپاره د بیلابیلو زده کړیزو او ورزشی پروګرامونو په لاره اچول.**

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداره دا مکلفیت منی چی د مسلکی روزنی سره سره باید د پوهنتون اړوند محصلینو ته اجتماعی فعالیتو او په نورو برخو کښی د وړتیا لوړولو ته پوره پاملرنه وکړی چی په همدی خاطر لاندی ځینی پروګرامونه په نظر کښی نیول شوي دی.**

**کړني:**

1) **د کریډیټ سیستم او لوړو زده کړو د قوانینو سره د محصلانو د بلدیت پروګرامونه په لاره اچول.**
2) **د محصلینو لپاره د انګلیسی، عربي او کمپیوتر زده کړي لنډ مهاله پروګرامونه دایرول.**
3) **د محصلینو لپاره د مختلفو مسلکي کورسونو او پروګرامونو په لاره اچول.**
4) **د محصلانو لپاره د تفریحی زده کړو د ځینو پروګرامونو په لاره اچول**
5) **یو ورزشی کلب تیارول او تجهیزول، څو محصلین وکولای سی ورزشی فعالیتونه په کښی تر سره کړی.**
6) **د مؤسسې اړوند محصلانو لپاره د انټرشیپ پروګرام په لاره اچول.**

**دوهمه اړتیا: د محصل محوري زده کړي (SCL) او د پایلو پر بنا (OBE) د تدریس پروسه مخته وړل:**

**د محصل محوري زده کړي (SCL) میتود یو له نوو او اغیزمنو میتودونو له جملي څخه شمیرل کیږي، چي محصل په تدریسي بهیرکي زیاته برخه اخلي. په دي میتود کې استاد محصلین دي ته هڅوي چې د تدریس په پروسه کې برخه واخلي او مباحثه وکړي ترڅو محصل د موضوعاتو په هدف او موخه پوه شي. ددې تر**

څنګ یو بل نړیوال تدریسي میتود د پایلو پر بنا زده کړي (OBE) دي چي په نوموړي میتود کې  دپایلو پر بناء زده کړي ترسره کیږي. د تدریسي پروسي په پاي ته رسیدو سره هر محصل باید ټاکل شوي هدف ته رسیدلي وي چي په رسیدو سره به یې د تدریس پروسه معیاري شوي وي. ددي کړني لپاره لاندي ستراتیژیاني ټاکل شوي دي.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| د تدریسي پروسي د کیفیت لوړونه | د محصل محوري زده کړي (SCL) او د پایلو پر بناء (OBE) د تدریس پروسه مخته وړل | 1. د OBE او SCL برنامو لپاره نیاز سنجي کول.<br>2. د نصاب کمیټې ته دنده ورکول، ترڅو د OBE او SCL د برنامو لپاره یو کلن عملیاتي پلان جوړکړي.<br>3. نوموړي کمیته د پوهنتونو سره په دي برخه کې تفاهم لیک تر سره کړي.<br>4. د یو څو تنو استادانو معرفي کول نور پوهنتونو ته ترڅو د SCL او OBE په سمینارونو کي ګډون وکړي. |

## دریمه اړتیا: په ټولګیو کې د عصري ټکنالوژیکي منابعو کارول او ترمیم :

ټکنالوژي د ژوند په هره برخه او فعالیت کې د پام وړ او اغیزمن بدلونونه رامنځ ته کړي دي. نو په دي اساس په ټولګیو کې هم باید د ټکنالوژیکي موادو لکه (مُلټي میډیا ، LCD او کمپیوټر) څخه ګټه واخیستل شي، ترڅو درسي مفردات، موضوعات او لکچر په ډیره روښانه، واضح او آسانه ډول تر محصلینو پوري ورسیږي او د تدریس پروسه نوره هم معیاري شي. میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه په پلان کې لري، چې د نوموړي اړتیا لپاره لاندي کړني ترسره کړي. ددي کړني لپاره لاندي ستراتیژیاني ټاکل شوي دي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| د تدریسي پروسي د کیفیت لوړونه | په ټولګیو کې د عصري ټکنالوژیکي منابعو استعمال او ترمیمول | 1. په ټولګیو کې د تدریس لپاره د پروجکټور او مُلټي میډیا څخه ګټه اخیستل.<br>2. په ټولګیو کې د انټرنیټ آسانتیاوي رامنځته کول.<br>3. په هرو شپږو میاشتو کې د ټولګیو د ټکنالوژیکي وسایلو څخه نظارت او ترمیمول. |

## څلورمه اړتیا: د استادانو پوهه د ټکنالوژۍ سره زیاتول:

د نوي ټکنالوژۍ په رامنځته کیدو سره د پوهي لمنه زیاته پراخه شوي ده او د تدریس په بهیر کې د ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل درسي بهیر نور هم مؤثرکوي. میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د استادانو لپاره ځیني لنډ مهاله روزنیز ورکشاپونه په پلان کې لري، چي  د استادانو پوهه به د ټکنالوژۍ په برخه کې نوره هم زیاته شي؛ ترڅو دوي په درسي بهیر کې تري استفاده وکړي او تدریسي بهیر نور هم معیاري او ښه کړي. ددي کړني لپاره لاندي ستراتیژیاني ټاکل شوي دي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| د تدریسي پروسې د کیفیت لوړونه | د استادانو پوهه دټکنالوژۍ سره زیاتول | 1. د الکترونیکي زده کړي کمیټې ته دنده ورکول ترڅو د استادانو د ټکنالوژي د استعمال سره د بلدتیا په موخه عملیاتي پلان ترتیب کړي.<br>2. د عملیاتي پلان له مخې د ټکنالوژۍ په برخه کې استادانو ته مختلف سیمینارونه، ورکشاپونه او روزنیز پروګرامونه آماده کول. |

## د بستونو تزئید او تعدیل:

### الف ـ اداري بستونه؛ تعدیل او تزئید:

| اوسنی تشکیل | | | | له تعدیل وروسته | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د بست نوم | رتبه | تعداد | ګڼه | د بست نوم | رتبه | تعداد |
| ۱ | د دفتر عمومي مدیریت | ۴ | ۱ | ۱ | د دفتر آمریت | ۳ | ۱ |
| | | | | ۲ | د آرشیف مدیریت | ۵ | ۱ |
| ګڼه | د بست نوم | رتبه | تعداد | ګڼه | د بست نوم | رتبه | تعداد |
| ۲ | د محصلانو چارو عمومي مدیریت | ۴ | ۱ | ۱ | د محصلانو چارو آمریت | ۳ | ۱ |
| | | | | ۲ | د فارغانو چارو مدیریت | ۵ | ۱ |
| ګڼه | د بست نوم | رتبه | تعداد | ګڼه | د بست نوم | رتبه | تعداد |
| ۳ | مسلکي پرمختیایی مرکز آمریت | | | ۱ | مسلکي پرمختیایی مرکز | ۳ | ۱ |
| | | | | ۲ | اجرائیه مدیرت | ۵ | ۱ |

### ب ـ تزئید:

| ګڼه | د بست نوم | اداره | رتبه | تعداد | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۳ | ۱ | |
| ۲ | د عامه اړیکو او انسجام عمومي مدیریت | ریاست | ۴ | ۱ | |
| ۳ | د محصلانو چارو د انسجام آمریت | د علمي او محصلانو چارو معاونیت | ۳ | ۱ | |
| ۴ | د حفظ او مراقبت عمومي مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۴ | ۱ | |
| ۵ | د بودیجي د تنظیم عمومي مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۴ | ۱ | |
| ٦ | د خدماتو عمومي مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۴ | ۱ | |
| ۷ | د استخدام مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۵ | ۱ | |
| ۸ | د وب سایټ مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۵ | ۱ | |
| ۹ | اجرائیه مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۵ | ۱ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | د سوانحو مدیر یت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۵ | ۱ | |
| ۱۱ | د ليليي مديريت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۴ | ۱ | |
| ۱۲ | اجرایه مدیریت | د نشراتو او عامه پوهاوي امریت | ۵ | ۱ | |
| ۱۳ | د املاکو مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۵ | ۱ | |
| ۱۴ | د اجناسو د ویپو مدیریت | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۵ | ۱ | |
| ۱۵ | برقي | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۷ | ۱ | |
| ۱٦ | نجار | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۷ | ۱ | |
| ۱۷ | اجرائیه مدیریت | تضمین کیفیت امریت | ۵ | ۱ | |
| ۱۸ | اجرائیه مدیریت | څېړنیز مرکز امریت | ۵ | ۱ | |
| ۱۹ | کتابتون مدیریت | ښوونې او روزنې پوهنځی | ۵ | ۱ | |
| ۲۰ | کتابتون مدیریت | اقتصاد پوهنځی | ۵ | ۱ | |
| ۲۱ | کتابتون مدیریت | کرهنه پوهنځی | ۵ | ۱ | |

**ج ــ پوهنځي او څانګې:**

| ګڼه | پوهنځی | څانګې | د بست نوم | رتبه | تعداد | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ښوونه او روزنه | رياضي | استاد | ۴ | ۴ | |
| | | فزیک | استاد | ۴ | ۳ | |
| | | کیمیا | استاد | ۴ | ۳ | |
| | | بیولوژي | استاد | ۴ | ۳ | |
| ۲ | زراعت | مالداري | استاد | ۴ | ۲ | |
| | | باغداري | استاد | ۴ | ۲ | |
| ۳ | اقتصاد | اداره او تجارت | استاد | ۴ | ۲ | |
| | | ملي اقتصاد | استاد | ۴ | ۳ | |

## 2. زېربنايي تأسيسات

زيربنايي تأسيسات او ودانۍ ديوه تحصيلي نهاد لپاره حياتي ارزښت لري، چي په وسيله يې نوموړي نهاد خپلو اهدافو ته رسيږي. ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د خپلو استادانو، محصلانو او کارمندانو لپاره يو داسي سالم او اکاډميک چاپيريال رامنځته کړي چي د هغه په واسطه به د موسسې ټولي اکاډميکي او اداري اړتياوي په مؤثر او چټک ډول سره مخته يوسي.

ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداري د خپلو ستراتيژيکو موخو څخه يوه هم د اړتيا وړ نوي دايمي ودانۍ او زيربنايي تاسيسات دي، چې د علمي پروگرامونو د ښې اراءيي په موخه يې چمتو کوي. ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداره د خپلو اوږد مهاله موخو په برخه کې زيربنايي تاسيساتو ته حق اوليت ورکړي او اړوندي برخي ته پلان کې زياته توجو کوي. ځکه چي زېربنايي تأسيسات او ودانۍ د يوه تحصيلي نهاد د اوږد مهاله پلانونو په تطبيق کي رغنده رول لري او دپلانونو تطبيق په اسانۍ سره صورت نيولاي سي. همدارنګه د زيربنايي تأسيساتو د جوړيدلو په بشپړتيا سره په راتلونکې کې دنوموړي  نهاد په مالي مصارفو کي کموالي رامنځته کيږي او تحصيلي نهاد کولاي سي، چې نوموړي مصارف په نورو برخو کې ترسره کړي ترڅو د نهاد د پرمختګ سبب وګرځي. د دايمي ودانيو او تأسيساتو د بشپړولو لپاره لاندي موخي په پلان کې لري:

1. د مؤسسې اداري بلاک جوړول
2. د ښوني او روزنې پوهنځي تدريسي بلاک ( تدريسي ټولګي، کنفرانس هال، معياري کتابتون او کمپيوټر ليب) جوړول
3. جمنازيوم جوړول
4. د کتابتون ودانۍ جوړول
5. د لابراتوار ودانۍ جوړول
6. کاناليزا سيون او پياده رونه جوړول
7. د اقتصاد پوهنځي تدريسي بلاک ( تدريسي ټولګي، کنفرانس هال، معياري کتابتون او کمپيوټر ليب) جوړول.
8. د زراعت پوهنځي تدريسي بلاک ( تدريسي ټولګي، کنفرانس هال، معياري کتابتون او کمپيوټر ليب) جوړول.
9. د شرعياتو پوهنځی تدريسي بلاک ( تدريسي ټولګي، کنفرانس هال، معياري کتابتون او کمپيوټر ليب) جوړول.
10. د مسلکي زده کړو د انکشاف لپاره د PDC  معياري ودانۍ ايجادول:
11. د څيړنيز مرکز Research Center دمعياري ودانۍ يجادول:
12. د وسايطو لپاره پارکينګ جوړول
13. د بر يښنا لپاره سيستم جوړول
14. د مسجد جوړول
15. اډيټوريم جوړول
16. پر سل جريبه ځمکه احاطوي ديوال جوړول
17. دليلې ودانيې جوړول
18. د ليليې احاطوي ديوال بشپړول
19. د طعام خورۍ د صالون جوړول
20. ديو زرغون چاپيريال رامنځته کول.
21. د چنباک او اوبو لګوني پروژه فعالول.
22. دکرهنې پوهنځي د مالدارۍ اوباغداري په برخه کي دتحقيقاتي فارمونو جوړول.
23. دبدني روزني لپاره لوبغالو حوړول.
24. د معلوماتي ټکنالوژۍ دوداني (ITC) جوړول.

### د مؤسسې اداري بلاک جوړول:

دا چي تحصيلي نهاد د خپلو اداري چارو او فعاليتونو د سرته رسولو لپاره خاصو اداري جوړښتونو او ځايونو ته ضرورت لري، نو لازمه ده، چې په زيربنايې تأسيساتو کي د اداري بلاک جوړښت رامنځته شي. ترڅو ټول اداري کارمندان او استادان خپل اداري فعاليتونه په هوسا او ډاډمن  شکل سرته ورسوي. په اداري بلاک کې د تحصيلي نهاد د رياست مقام، اداري، محصلانو او علمي معاونيتونه، د پوهنځيو رياستونه او څانګو آمريتونه موجود وي. د نوموړي کړنې د ترسره کولو د پاره لاندي ستراتيژياني په نظر کې نيول کيږي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د مؤسسې اداري بلاک جوړول | 1. د اداري بلاک ساختماني چاري د لوړو زده کړو وزارت د هدایت او پلان مطابق پرمخ وړل.<br>2. د اداري بلاک په ساختمان کې د مؤسسې ریاست، مالي او اداري معاونیت، د محصلانو چارو معاونیت، اقتصاد پوهنځي،کمپیوټرساینس پوهنځي، څانګو او تدریسي مدیریتونو لپاره دفترونه آماده کول. |

## د ښوونې اوروزنې پوهنځي تدریسي بلاک (تدریسي ټولګي، کنفرانس هال، معیاري کتابتون او کمپیوټر لیب):

څرنګه چې تدریس د تحصیلي نهاد د فعالیتونو څخه یو د ډیرو مهمو او ارزښتمنو فعالیتونو له جملې دي، په همدې اساس د زیربنایي تأسیساتو د جوړیدلو پر مهال تحصیلي نهاد کوښښ کوي، چې یو معیاري تدریسي بلاک جوړ او رامنځته کړي. که چیري معیاري ټولګي، کنفرانس خونه او د امتحاناتو خونه پکې شامله وي، په نتیجه کې به تدریسي بهیر او چاري په معیاري ډول پر مخ رواني وي. همدارنګه کتابتون په یوه تحصیلي نهاد کې یو له مهمو او ارزښتمنو جوړښتونو څخه دی چیري چې د کتابونو تر څنګ یو آرام او سالم چاپیریال د مطالعي لپاره موجود وي نو په همدې اساس تحصیلي نهاد په خپلو زیربنایي تأسیساتو کې د یو مجهز کتابتون لپاره معیاري ساختماني جوړښت رامنځ ته کوي چې محصل به وکولاي شي چې هر ډول علمي کتابونه په مطالعه کولو سره به خپله پوهه زیاته کړي او ورسره کمپیوټر لیب په یوه تحصیلي اداره کې د محصلینو سره په تمرین کولو، تجربو سرته رسولو او علمي پلټنو کې حیاتي رول لري. چې په دې سره د محصلینو په علمي پوهه کې پراختیا رامنځته کوي نو په همدې اساس یو تحصیلي نهاد په خپلو زېربنایي تأسیساتو کې یو مجهز او پرمختللی کمپوټر لیب ساختماني جوړښت رامنځته کوي چې د ټولني غوښتنو ته مثبت ځواب ویونکي وي ددې لپاره چې د ستراتیژیک پلان دي موخې ته ورسیږو، لاندې ستراتیژۍ باید تطبیق کړو:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د ښوونې اوروزنې پوهنځي تدریسي بلاک جوړول | 1. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د تدریسي بلاک ساختماني چاري پرمخ وړل<br>2. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د تدریسي ټولګیو تعمیرول.<br>3. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د کنفرانس هال تعمیرول.<br>4. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د کتابتون تعمیرول.<br>5. د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د کمپیوتر لیب تعمیرول. |

## جمنازیم:

دا چې سپورت یا ورزش د انسان په سالمه روغتیا کې حیاتي رول لري نو همدارنګه د ژوند چاري او فعالیتونه هغه وخت په ښه ډول سرته رسیدلاي سي کله چي سالم صحت ولرو او یا د پوره روغتیا خاوندان واوسو. نو په همدې اساس میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو کارمندانو او محصلینو د روغتیا او سالمي روزنې په موخه د بدني فعالیتونو یا ورزش د ترسره کولو لپاره په زیربنایي تأسیساتو کې جمنازیم جوړښت رامنځته کوي. چې په دې سره به استادان، کارمندان او محصلین په فارغه وخت کې مختلیفو ورزشونه او لوبې سرته ورسولاي شي. چې نوموړې کړنې د لاندې ستراتیژیو په نظر کې نیول سره اجراء کیږي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | جمنازیم | 1. د جمنازیم په ساختمان کې  لوبغالي او د بدني روزنې لپاره دمعیاري میدانونو جوړول او د هغو تجهیزول<br>2. د جمنازیم ساختماني چاري د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق مخ په وړاندې وړل |

## د پوهنتون په کچه د عمومي کتابتون ودانۍ رغول:

اوس لپاره چه کومه خونه او ودانۍ د کتابتون لپاره استفاده کیږي معیاري نه ده محصلین او استادان د مطالعي په وخت کي دځای د کموالي له امله د بیلابیلو ستونزو سره مخ وي ځکه نو هلمند د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کي لري چه یومعیاري ودانۍ دیاد هدف لپاره ورغوي دي سره به د ټولو محصلینو او استادانو د مطالعي په برخه کي سته ستونزي راکمي سي.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د پوهنتون په کچه د عمومي کتابتون ودانۍ رغول | 1. د یو معیاري ودانۍ ډیزان چاري تکمیلول.<br>2. ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.<br>3. د معیاري الماریو،میزنو او چوکیو برابرول.<br>4. نوموړي ودانۍ د استفادي لپاره چمتو کول. |

## د پوهنتون په کچه د عمومي لابراتوار ودانۍ رغول:

هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې د لابراتواري توکو د رانیولو لپاره لا له وړاندي پوره سرمایه ګذاري کړي چه د ټولوځانګو لپاره ئې مناسب او د اړتیا وړ سامان الات او تجهیزات چمتو کړي دي.دي لپاره چه دديٍ توکو څخه په صحیح اومناسبه توګه استفاده وسي د یو معیاري ودانيٍ جوړولو په هڅه کي یو.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د عمومي لابراتوار ودانۍ جوړول | 1. د ودانۍ د ډیزان چاري تکمیلول.<br>2. د ودانۍ ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.<br>3. په کارپوه او باتجربه لابرانتان ( Labrant/ technician )مسلکي کارکوونکي چمتو کول.<br>4. نوموړي ودانۍ د استفادي لپاره چمتو کول. |

## زرغون چاپیریال او سړکونه:

میر ویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسي کي د ماسټرپلان اړوند د سړکونو،پیاده رونو،لیولکاري،لښتیواو زرغون چاپیریال چاري تکمیلول.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | زرغون چاپیریال او سړکونه | 1. د ټولي ساحي لیولکاري( Site leveling )<br>2. د ماستر پلان اړوند د سړکونو لیاوټ( Layout )<br>3. د لښتیو رغول( side ditches )<br>4. د پیاده رونو رغول( Footpath )<br>5. د ونو کښینول( Trees Plantation )<br>6. د چمنونو کښینول( Lawn cultivation and Preparation )<br>7. د سړکونو رغول.<br>8. د ناستي لپاره د کانکریتي چوکیو نسبول. |

## د اقتصاد پوهنځی تد ریسي بلاک جوړول:

د سیمي داړتیا اوغوښتونواړوند میر ویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسیسه غواړي د موجوده پوهنځیو تر څنګ د اقتصاد پوهنځی هم د دوو( اداره او تجارت او د ملي اقتصاد ) څانګو په درلودلو سره ایجاد کړي ،ددي څانګي تآسیسول به د ملي اقتصاد په بهبودکي رغنده ونډه ولري.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د اقتصاد پوهنځی تد ریسي بلاکجوړول | 1. د یو معیاري تدریسي ودانۍ ډیزان چاري تکمیلول.<br>2. ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.<br>3. د الماریو،میزنو او چوکیو برابرول. |

| | | |
|---|---|---|
| | | 4. نوموړي ودانۍ د استفادې لپاره چمتو کول. |

**د کرهنې پوهنځی لپاره معیاري تدریسي ودانۍ رغول:**

**د کرهنې پوهنځی لپاره د ټولو اړتیا وړ لوازمو او تجهیزاتو سره د یو معیاري تدریسي ودانۍ رغول.**

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زېربنايي تأسيسات | د کرهنې پوهنځی لپاره معیاري تدریسي ودانۍ رغول | 1. د یو معیاري تدریسي ودانۍ ډیزان چاري تکمیلول.<br>2. ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.<br>3. د الماریو،میزونو او چوکیو برابرول.<br>4. نوموړي ودانۍ د استفادې لپاره چمتو کول. |

**د شرعیاتو پوهنځی لپاره معیاري تدریسي ودانۍ رغول:**

**د ځایي اداري،مخورو او قومي مشرانو د مکررو غوښتنو په اساس میر ویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري چه د خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان په محدوده کې د شرعیاتو پوهنځی ددوو( اسلامي تعلیماتو او فقه او قانون )څانګو په درلودلوسره تآسیس کړي،دې ګټه به دا وي چه د دیني او شرعي زده کړو لپاره به مو زده کړیالان د همسایه هیوادونو په ځای په خپل هیواد کې دننه د خپلو استادانو څخه زده کړې تر لاسه کوی چه یاده چاره به د امنیت په سمون کې رغنده ونډه ولري.**

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زېربنايي تأسيسات | د شرعیاتو پوهنځی لپاره معیاري تدریسي ودانۍ رغول | 5. د یو معیاري تدریسي ودانۍ ډیزان چاري تکمیلول.<br>6. ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.<br>7. د الماریو،میزونو او چوکیو برابرول.<br>8. نوموړي ودانۍ د استفادې لپاره چمتو کول. |

**د مسلکي زده کړو د انکشاف لپاره د PDC معیاري ودانۍ ایجادول:**

**میر ویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري چه په راتلوونکو پنځو کلونوکې د مؤسسې په کچه د مسکلي زده کړو مرکز PDC Center ودانۍ سره د ټولو اړینو لوازمو او تجهیزاتوسره ورغوي ،یاد مرکز به د انترنیټ،برق او مسلکي استادانوله درکه تکمل وي.**

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زېربنايي تأسيسات | د PDC مرکز لپاره دمعیاري ودانۍ ایجادول | 1. د یاد مرکز لپاره د یومعیاري ودانۍ ډیزاین.<br>2. د یادې ودانۍ لپاره د ټولو اړینو توکو برابرول.<br>3. د OBE SCL په برخه کې دیو استاد روزل.<br>4. د ټرینیګ په برخه کې د یومنظم پلان جوړول.<br>5. د یاد مرکز د مسؤلیتونو او وظایفو طرح جوړول.<br>6. د یاد مرکز د مسلکي استادانو لپاره د معاش او نورو امتیازاتو منبع برابرول. |

**د وسایطو لپاره پارکینګ :**

**لکه څرنګه چې په تحصیلي نهاد کې محصلین، اداري کارمندان او استادان خپل فعالیتونه اجراء کوي، نو د هغوی د وسایطو لپاره یو منظم او پراخه پارکینګ باید موجود وي. نو په همدې اساس سره  یو تحصیلي نهاد په خپلو زیربنايي تأسیساتو کې پراخ ځای په نښه کړي وي ترڅو ورته پام وکړي او منځته یې راوړي**

ترځو د وسایطو په برخه کې ټولو محصلینو، اداري کارمندانو او استادانو ضرورتونو ته مثبت ځواب ورکړي نو د نوموړي کړنې د اجراء د پاره د لاندې ستراتیژیو څخه کار اخیستل کیږي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د وسایطو لپاره پارکینګ | 1. په مؤسسه کې د پارکینګ دپاره د ساحې انتخابول.<br>2. د پلان مطابق د پارګینګ د جوړول چارې مخته وړل.<br>3. د وسایطو د منظم کولو د پاره د کارډونو جوړول. |

## د بریښنا لپاره د سیستم جوړول:

انرژي د فعالیتونو په اجراء کولو کې مهم رول لري دا چې انرژي د یو تحصیلي نهاد پر هر فعالیت باندې مستقیمه اغیزه لري. نو د برښنا په موجودیت سره به فعالیتونه پر وخت او اغیزمنه توګه ترسره کیداې شي. نو په همدې اساس سره تحصیلي نهاد په خپلو زیربنایي تأسیساتو کې د انرژي د سیستم جوړول په خپلو پلانونو کې نیسي. ترڅو محصلین، استادان او کارمندان د همدې سیستم د تولید شوي انژري څخه د کړنو په ترسره کولو کې ګټه واخلي چې د نوموړي کړنې د ترسره کولو لپاره باید لاندې ستراتیژیاني په نظر کې ونیسو:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د بریښنا لپاره د سیستم جوړول | 1. د مؤسسې د برښنا ضرورت دیوي ورځې په جریان کې ټاکل .<br>2. د مؤسسې د برښنا د ضرورت د پوره کولو لپاره د سولر سیستم او یا هم د ډیزلي برښنا سیستم رامنځته کول.<br>3. د انرژي د سیستم لپاره د مؤسسې په احاطه کې یو خاص ځاي مشخص کول |

## د مسجد جوړول:

داچې زموږ ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده او د میرویس خان نیکه زابل د لوړوزده کړو مؤسسې لومړي ارزښت هم همدا دی، چې د اسلامي ارزښتونو درناوي او ټول فعالیتونه به د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې تر سره کوي. په همدې اساس میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه لازمه وګڼله، چې په خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې د مسجد لپاره د مؤسسې په داخل کې یو خاص ځاي مشخص او د مسجد ساختماني جوړښت رامنځته کړ. چې علمي کادرونه، اداري کارکوونکي او محصلین به د الله «جل جلالهُ» عبادات په پوره اطمینان او آرامتیا سره اداء کوي. میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداره د لاندې ستراتیژیو په مرسته کولاي شي، نوموړي کړنه پر ټاکلي وخت اجراء کړي:

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زیربنایي تأسیسات | د مسجد تعمیرول | 1. په مؤسسه کې د مسجد لپاره ځاي مشخص کول<br>2. د مؤسسې استادانو ، کارمندانو او محصلینو ته په کتو سره د مسجد لپاره معیاري نقشه ډیزاینول.<br>3. د مسجد ساختماني چارې د پلان مطابق مخ ته وړل او پر وخت د هغوی څخه څارنه کول<br>4. د مسجد لپاره تجهیزات آماده کول |

## اډیټوریم :

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د لویو غونډو، سمینارونو او د محصلینو لپاره د پروګرامونو د اراءیه کولو لپاره د خپلو موخو په سلسله کې د اډیټوریم جوړول هم شامل دی. دا موخه په زیربنایي تاسیساتو کې ځاې پر ځاې شوي ده. میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداره به د علمي او خیړنیزو پروګرامونو او ملي محفلونو د لمانځلو لپاره د اډیټوریم څخه استفاده وکړي.

| کړنې | فرعي موخه | اصلي موخه |
|---|---|---|
| 1. په مؤسسه کې د اوډیتوریم لپاره ځای مشخص کول<br>2. د مؤسسې استادانو، کارمندانو او محصلینو ته په کتو سره د اوډیتوریم لپاره معیاري نقشه ډیزاینول.<br>3. د اوډیتوریم ساختماني چارې د پلان مطابق مخ ته وړل او پروخت د هغوی څخه څارنه کول<br>4. د اوډیتوریم لپاره تجهیزات آماده کول | اوډیتوریم | زیربنایي تأسیسات |

## پر سل جریبه ځمکه احاطوي دیوال جوړول:

پر سل جریبه ځمکه احاطوي دیوال جوړول ترڅو د میر ویس خان نیکه زابل دلوړو زدکړو مؤسسه دټولو محدود یتونو نوڅخه خوندي او محفوظه وي.

| کړنې | فرعي موخه | اصلي موخه |
|---|---|---|
| 1. د یاد احاطوي دیوال لپاره د دیوال رنګول.<br>2. محافظوي کتاري.<br>3. د ساتونکو استوګنځی اود ګیټونو(دروازو )دکښینولو چاري شاملې دي. | پر سل جریبه ځمکه احاطوي دیوال جوړول | زیربنایي تأسیسات |

## د لیلئي دوداني جوړول:

د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د یوي څلور پوړیزه لیلئي اعمار، چي په ۱۴۰۰ مالي کال کې منظور او د بنسټ ډبره یي ایښودلي شوي ده بشپړول شامل دي.

| کړنې | فرعي موخه | اصلي موخه |
|---|---|---|
| 4. د یاد احاطوي دیوال لپاره د دیوال رنګول.<br>5. محافظوي کتاري.<br>6. د ساتونکو استوګنځی اود ګیټونو(دروازو )دکښینولو چاري شاملې دي. | د لیلئي دوداني جوړول | زیربنایي تأسیسات |

## د لیلیي احاطوي دیوال جوړول:

د پلان مطابق احاطوي دیوال جوړول ترڅو د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې دمحصلینو لیلیه دټولو محدود یتونو څخه خوندي او محفوظه وي د جوړولو چاري یی مخته وړل.

| کړنې | فرعي موخه | اصلي موخه |
|---|---|---|
| 7. د یو معیاري ودانۍ ډیزان چاري تکمیلول.<br>8. ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.<br>9. د الماریو،میزونو او چوکیو برابرول.<br>10. نوموړي ودانۍ د استفادې لپاره چمتو کول.<br>11. چپرکټونه او د استوګني نورلوازم برابرول شامل دي. | دلیلی احاطوي دیوال جوړول | زیربنایي تأسیسات |

## د طعام خورۍ د صالون جوړول:

د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدایت مطابق د یوي لیلئي لپاره د طعام خورۍ دصالون جوړول.

| کړنې | فرعي موخه | اصلي موخه |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| زیربنايي تأسيسات | د طعام خورۍ د صالون جوړول | 1. د يادي طعام خورۍ ټولي چاري لکه ميز ،د اشپزخاني د اړتيا وړتوکي برابرول،<br>2. چيرکتونه او د استوګني نورلوازم برابرول شامل دي. |

## ديوزرغون چاپيريال جوړول:

ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د ماستړپلان اړوند د د لښتيو ،پياده رونو،ليولکارۍ، د ونو کښينول د چمنونو کښينول او زرغون چاپيريال چاري تکميلول.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زیربنايي تأسيسات | ديوزرغون چاپيريال جوړول | 1. د ټولي ساحي ليولکاري.<br>2. د چمنونو کښينول.<br>3. چيرکتونه او د استوګني نورلوازم برابرول شامل دي.<br>4. د لښتيو رغول.<br>5. د ونو کښينول.<br>6. د ناستي لپاره د کانکريتي چوکيو نسبول. |

## د څښاک او اوبو لګوني پروژه فعالول:

په دي پروژه کي تر ډيره کوښښ کيږي چه د ټول کمپس په کچه يو واحده د اوبو منبع ورغول شي تر څو د دواړ هدفونولکه په ټولو اداري او تدريسي ودانيو کي د څښاک د اوبو استفاده او همدارنګه د پوهنتون د زرغون چا پيريال دخړوبلو لپاره هم استفاده ورڅخه وشي.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زیربنايي تأسيسات | د څښاک او اوبو لګوني پروژه فعالول | 1. د يوي لوړي ارتفاع لرونکي ذخيري جوړول.<br>2. د څښاک د اوبو لپاره داوبو رسوني ميکانيزم جوړول.<br>3. د زرغون چاپيريال د خړوبولو لپاره ميکانيزم جوړول.<br>4. د يوي غټي برمي کنيدل او تجهيزول.<br>5. پايپ رسوني سيستم جوړول. |

## دکرهني پوهنځي د مالدارۍ اوباغداري په برخه کي دتحقيقاتي فارمونو جوړول:

زابل ولايت د خپل ستراتيژيک موقعيت له پلوه د مالدارۍ او باغداري په برخه کي د څيړنو لپاره يو مناسب بستر بلل کيږي اوله نيکه مرغه مير ويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه د څانګي ادارو او ټولني سره د ښوا‌ړيکو او د ښکيلو خواوو سره د ګډوهمکاريو دسندونو په درلودلو سره په پلان کي لري چه د زابل ولايت د کرني او مالدارۍ په بر خه کي دراتلوونکو پنځو کلونو په جريان کي به په ياده څمکه کي دمالدارۍ لپاره څيړنيزفارمونه جوړ شي چه دي سره به استادانو او محصلانو ته د پام وړ څيړنيزي بوختياوي او علمي فرصتونه برابر شي چه ور سره به د ټولني او همدارنګه په زابل ولايت کي د مالدارانو سره د مرستي په برخه کي اغيزمن ګامونه اوچت شوي وي.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړني |
|---|---|---|
| زیربنايي تأسيسات | دکرهني پوهنځي د مالدارۍ اوباغداري په برخه کي دتحقيقاتي فارمونو جوړول | 1. د پوهنتون په څمکه کي د مالداريی اوباغداري د فارم د رغولو لپاره لمړني سروي تر سره کول.<br>2. د پوهنتون په څمکه کي د ملداريی اوباغداري د فارم د رغولو لپاره اړين لوازم او تجهيزات برابرول.<br>3. د پوهنتون په څمکه کي د مالداريی د فارم د رغولو لپاره د بيلابيلو نسلونو حيوانات(فارمي ماهيان،چرګان،د شاتومچی )چمتو کول اوهمدارنګه دنباتاتو دمختليفو ورايتي ګانو کينول. |

| | | |
|---|---|---|
| | | 4. په ياده برخه کي د زابل دلوړو زده کړو مؤسسه دکرهنې پوهنځی استادانو ته د څېړنو اړوند بوره پوهاوی ورکول.<br>5. استادان تشويقول تر څو د نړيوالو مؤسسو Hiegher Education Devolapment Program(HEDP)اوداسې نورو مرستندويه اداروته د څېړنيزو پروژو د تمويل لپاره پروپوزلونه چمتوکړي.<br>6. استادان تشويقول تر څو د مالدارۍ او باغدارۍ په برخه کي د ټولنې اساسي ستونزې په ګوته اوهغوی ته د څېړنو په مرسته حل<br>7. لاري ومومي. |

## دبدني روزني لپاره لوبغالو حوړول:

د لوړو زده کړو وزارت د پلان او هدايت مطابق دلوبغالي او د بدني روزني لپاره (د واليبال ،فوتبال او کريکټ) د لوبو لپاره دمعياري ميدانونو جوړول او هغه تجهيزول.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زيربنايي تأسيسات | دبدني روزني لپاره لوبغالو حوړول | 1. د ټولي ساحي ليولکاري.<br>2. په مؤسسه کي د لوبغالو لپاره د ساحي انتخابول.<br>3. د پلان مطابق د لوبغالو د جوړول چاري مخته وړل.<br>4. ټولي رغنيزې چارې تکميلول.<br>5. نومورې لوبغالو د استفادې لپاره چمتو کول. |

## د معلوماتي ټکنالوجۍ دوداني (ITC) جوړول:

د معلوماتي ټکنالوجۍ اهميت درک کول او مرکز سمبالول د اداري سيستم کنټرول او د واحدونو روزنه او نصب کول ګرانو محصلينو ته د تکنالوژۍ په برخه کې د نويو لاسته راوړنو د امنيت کنټرول او چمتو کول پلان شوي دي د معلوماتي ټکنالوژۍ د تجهيزاتو ترميم او په کار او فعاليت ا چول.

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| زيربنايي تأسيسات | دمعلو ماتي ټکنالوژۍ دوداني جوړول | 1. د ياد مرکز لپاره د يومعياري ودانۍ ډيزاين.<br>2. د يادي ودانۍ لپاره د ټولو اړينو توکو برابرول.<br>3. د ټرينګ په برخه کي د يومنظم پلان جوړول.<br>4. د ياد مرکز د مسؤليتونو او وظايفو طرح جوړول.<br>5. د ياد مرکز د مسلکي استادانو لپاره د معاش او نورو امتيازاتو منبع برابرول. |

## د مؤسسې د عايداتي سرچينو زياتول:

دا چې هره دولتي اداره او نهاد د خپلو فعاليتونو د ترسره کولو لپاره د دولت له لوري د ورکړل شوي بوديجې ترڅنګ نورو مالي سرچينو ته هم ضرورت لري، بناءً يوه دولتي اداره بايد د فعاليتونو د ترسره کولو د پاره د دولتي بوديجې ترڅنګ نوري عايداتي سرچيني هم ولري. که چيري نوري عايداتي سرچيني موجودي نه وي، نو فعاليتونه د ځنډ سره مخامخ کيږي. پرمختګ تر سره کيداي نه شي، او اداره خپلو اهدافو ته نه رسيږي. مختليفي عايداتي سرچيني منځته راوړل او د هغوی څخه په مثبت او مؤثر ډول ګټه اخيستنه اداره خپلو اهدافو ته په آسانۍسره رسولاي شي.

نو ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداره به په راتلونکو برنامو کې هڅه کوي، تر څو د خپلو عايداتي سرچينو په شمير کې زياتوالی رامنځته کړي؛ چې په همدي اساس نوموړي تحصيلي نهاد د خپلو عايداتي سرچينو د شمير زياتولو په برخه کې ځيني برنامي لري چې عبارت دي له اقتصادي مشورتي بورډ، لنډ مهاله روزنيز ورکشاپونه او څېړني ترسره کول. ددې لارې به ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداره وتوانيږي، چې خپل عايدات نور هم اضافه کړي او په فعاليتونو کې به ښه والي رامنځته کړي ترڅو خپلو اهدافو ته رسيدلي وي .

### د لنډ مهاله کورسونو او یا اساسي پروګرامونو دائرول:

**لنډ مهاله کورسونه دائرول د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د عوایدو یوه پراخه منبع جوړیدلایي شي. لکه څرنګه چې لنډ مهاله کورسونه یا اوږدمهاله پروګرامونه د ټولنې یو بنیادي ضرورت دی او یوګڼ شمیر محصلین غوښتنه کوي چې په ډیر لږ وخت کې د مسلکي کورسونو سره آشنایي پیداکړي لکه د مالي محاسبې، مدیریت، غذایي موادو فارمولیشن او دې ته ورته نورو لنډمهاله پروګرامونو سره د نوموړو پروګرامونو څخه مؤسسه کولای شي د عوایدو په لاسته راوړلو کې کار واخلي. د دې کړنې لپاره لاندې ستراتیژیاني مشخصې شوي دي:**

| اصلي موخه | فرعي موخه | کړنې |
|---|---|---|
| مؤسسې ته د عایداتي سرچینو زیاتول | د اساسي پروګرامونو یا لنډ مهاله کورسونو دائرول | 1) د مختلفو پروګرامونو ترتیب او تنظیم کول.<br>2) د پروګرامونو له پاره درسي مواد، تجهیزات او کریکولم آماده کول.<br>3) د هر پروګرام لپاره د مصارفو او عوایدو کچه تشخیص کول.<br>4) په ټولنه کې د رشد او ودې له پاره د بازارموندنې پلانونه تنظیم کول. |

## میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د ارزونې ستراتیژي:

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې ددې لپاره چې ستراتیژیک پلان په ښه ډول تطبیق او ټاکل شوي موخې په ټاکلي وخت کې ترلاسه کړي، د فعالیتونو د اجراء د ارزونې په موخه د نظارت یوه مرکزي کمیټه ترتیب کړې ده، چې د هر کال په وروستیو کې د علمي، اداري او محصلینو اړونده چارې د مربوطه ستراتیژیو په اساس ارزوي چې د مؤسسې ستراتیژیک اهداف ترلاسه کولو فعالیتونه منظم او د نظارت پروسې قوي او بهتر کړي.**

| شمېره | نوم | په مؤسسه کې دنده | په کمیته کې دنده |
|---|---|---|---|
| ۱ | روح الله مشال | عمومي رئیس | د کمیټې مسؤل |
| ۲ | پوهنمل حمدالله حمیم | د علمي او محصلانو چارو مرستیال | د کمیټې غړی |
| ۳ | قاري نقیب الله هجرت | مالي او اداري چارو مرستیال | د کمیټې غړی |
| ۴ | پوهنیار حاجي ګل همت | د کرهنې پوهنځی رئیس | د کمیټې غړی |
| ۵ | احسان الله | د پلان او احصائې مدیر | د کمیټې غړی |
| ٦ | پوهنیار وحیدالله زغم | د ښوونې او روزنې پوهنځي استاد | د کمیټې غړی |
| ۷ | پوهنیار محمد خالد افغان | د ښوونې او روزنې پوهنځي استاد | د کمیټې غړی |
| ۸ | نوماند پوهنیار محمد نادر شیرزاد | د کرهنې پوهنځي استاد | د کمیټې غړی |
| ۹ | نوماند پوهنیار امان الله حقیار | د اقتصاد پوهنځي استاد | د کمیټې غړی |

**نوموړې کمیټه خاص عملیاتي پلان لري، چې د تطبیق په برخه کې اقدامات تر سره کوي. د لوړو زده کړو وزارت د علمي برنامو لپاره چې کومې پالیسۍ ټاکلې شوي دي، د تطبیق په برخه کې خپلو اړوند محصلانو، سکتوري ادارو او نورو مربوطه اشخاصو ته اطمینان ورکول کیږي. د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې د ارزونې کمیټې له لوري د هر تحصیلي کال په وروستیو کښې د منظم پلان له مخې ارزونه تر سره کیږي او اړوند مشکلات په نښه کیږي، د حل لپاره یې پلان ترتیب کیږي او ستونزو ته د حل لاره پیداکیږي؛ ترڅو په راتلونکې کې په عملیاتي پلان کې ځای ورته ورکول شي.**

**بودیجه او د بودیجې ویش**

| کال | ۱۴۰۱ | | ۱۴۰۲ | | ۱۴۰۳ | | ۱۴۰۴ | | ۱۴۰۵ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بودیجه | عادي | انکشافي | عادي | انکشافي | عادي | انکشافي | عادي | انکشافي | عادي | انکشافي |
| | 5339000 | 275000000 | 2380000 | 54150000 | 9280000 | 82000000 | 3790000 | 284000000 | 3454000 | 142000000 |
| مجموعه | 280339000 | | 56530000 | | 91280000 | | 287790000 | | 145454000 | |
| عمومي مجموعه | 861393000 | | | | | | | | | |

## د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۱-۱۴۰۵ هـ ش) لپاره د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې عملیاتي پلان:

د پنځه کلن ستراتیژیک پلان پلي کول مالي لګښت ته اړتیا لري او پورته چې کوم رغنیز او اکاډمیک فعالیتونه پلان شوي دي، د هغوي د تطبیق له پاره هم منابعو ته اړتیا لیدل کېږي. د پورته فعالیتونو او پلان شوي کړنو د لګښت مالي پلان په لاندي ډول ترتیب شوي دی. که څه هم د ډېرو تآسیساتو جوړول، د مؤسسې لپاره اړین دي او باید ټول ضروري ودانۍ لکه تدریسي، اداري، لیلیه، کتابتون، لابراتوار، څېړنیز مرکز، د مسلکي زده کړو مرکز او داسي نور جوړ کړل شي مګر د مالي امکاناتو چمتو کول ورته یو اندازه ستونزمن کار دی. د لاندي بنیادي تآسیساتو د وخت په تفکیک تخمیني لګښت په راتلونکو پنځو کلونو کي د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د اړتیا او د هغه د اهمیت او اولویتونو په نظر کې نیولو سره په پلان کې نیول شوي دي.

| دپایلو پر بنسټ د میر ویس خان نیکه زابل دلوړو زده کړو مؤسسی د( 1401)  کال عملیاتي پلان | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | اصلي موخې | عمده فعالیتونه | شاخص | د کلني پلان شوي فعالیت مقدار یا فیصدي | د اړتیا وړ سرچینې | د اجراء مسؤل | همکاره اداري او وزارتونه | د فعالیت د پیل نېټه | د فعالیت د ختمېدو نېټه | د سپارلو نېټه | په ربعو کې د فعالیت مقدار یا فیصدي | | | | د اړتیا وړ بودیجه | | د بودیجې د اړتیا اړوند دلایل او معلومات | موقعه یاځای | کتنې |
| | | | | | | | | | | | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | عادي (افغانی) | پراختیايي افغانی | | | |
| 1 | د علمي او څېړنېزو پروګرامونو پراختیا. | د استادانو ظرفیت لوړول د ماسټري تر کچې پوري. | د استادانو د پرمختګ سلنه. | 32% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/8/20 | 1402/9/30 | 10% | 8% | 6% | 8% | | 12000000 | ماسټري ته د استادانو د معرفت مصارفات | د تدریس او تحقیق د کیفیت ښه والي او ظرفیت لوړول. | |
| 2 | | د استادانو ظرفیت لوړول د دکتورا تر کچې. | د استادانو د پرمختګ سلنه. | 15% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/10 | 1402/10/25 | 2% | 2% | 6% | 5% | | 6000000 | دکتورا ته د استادانو د معرفت مصارف | د تدریس او تحقیق د کیفیت ښه والي او ظرفیت لوړول. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٣ | | د اداري کارکوونکو لپاره د مدیریت او لیډرشیف اړوند لنډ مهاله پروګرامونه دا یرول. | د دایر شویو ورکشافونو او پروګرامونو تعداد په پنځو کلونو کې. | 50% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 20% | 10% | 10% | 10% | 500000 | | د مدیریت او لیډرشیف پروګرامونو مصارف | د اداري چارو د لا ښه والی | |
| ٤ | لوړو زده کړو ته لاس رسی | کمپیوټر ساینس پوهنځي ایجادول. | پوهنځی ایجاد | 80% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 20% | 20% | 20% | 20% | | 6000000 | د کمپیوټر ساینس پوهنځی لپاره د لازمو توکو د اماده کولو مصارف | د ټکنالوژي انکشاف اود سیمي ځوان نسل ته د ټکنالوژیکي زده کړو او مهارتونو د ترلاسه کولو | |
| ٥ | د بنسټیزو تاسیساتو انکشاف اوپه کمی او کیفي لحاظ د مؤسسي پراختیا (دزیربناوو پراختیا (Infrastructure)د زراعت پوهنځی اړتیاوي به پوره سوي وي. | د مؤسسي د یو باب لیلیي ودانی چې چاري یي ۸۵٪ سرته رسیدلي دي تکمیلول او ګټي اخیستني ته سپارل. | د لیلیي د بلاک تکمیلول. | 100% | بشري مالي او تخنیکي | مالي او اداري معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 30% | 30% | 20% | 20% | | 26000000 | د مؤسسي د لیلیي ودانی. د رغولو لپاره د اړتیا وړ مالي منابعو برابرول. | د محصلینو لپاره د اوسیدو مناسب ځای به رامنځته سوي وي. | |
| ٦ | | د زراعت پوهنځی د تدریسي ودانی. اعمار. | د مؤسسي د کرهنی پوهنځي تدریسي بلاک بلاک جوړونه | 40% | بشري مالي او تخنیکي | مالي او اداري معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 5% | 5% | 10% | 20% | | 85000000 | د زراعت پوهنځی د تدریسي ودانی. د اعمار لپاره د لازمو مالي منابعو برابرول. | د زراعت پوهنځی اړتیاوي به پوره سوي وي. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 7 | | د مؤسسې لپاره منظور شوي اداري تعمیر د اعمار پیل او ګټې اخیستنې ته سپارل. | د مؤسسې اداري تعمیر بلاک جوړونه | 50% | بشري مالي او تخنیکي | مالي او اداري معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 20% | 10% | 5% | 5% | | 90000000 | د مؤسسې د اداري تعمیر د رغولو لپاره د اړتیا وړ مالي منابعو برابرول. | د مؤسسې ضرورتونه به پوره سوي وی. | |
| 8 | د بنسټیزو تاسیساتو انکشاف اوپه کمی او کیفي لحاظ د مؤسسې پراختیا (دزیربناوو پراختیا (Infrastructure) | یو باب لابراتوار ودانۍ اعمار. | د مؤسسې لابراتوار بلاک جوړونه | 100% | بشري مالي او تخنیکي | مالي او اداري معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 20% | 20% | 20% | 40% | | 40000000 | د لابراتوار ودانۍ د اعمار لپاره د لازمو مالي منابعو برابرول. | د استادانو او محصلینو لپاره به د عملي تجربو زمینه برابره سوي وي. | |
| 9 | | د یو باب جامع مسجد جوړول. | جامع جومات جوړونه | 80% | بشري مالي او تخنیکي | مالي او اداري معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 20% | 20% | 20% | 20% | | 10000000 | د یو باب جامع مسجد جوړولو لپاره د اړتیا وړ مالي منابعو برابرول. | د استادانو او محصلینو پنځه وخته لمونځونه به پر جومات سره ادا کیږي. | |
| 10 | د مؤسسې د وضعیت ښه والی په کیفي لحاظ او د روزنیزو ورکشافونو دائرول. | د استادانو لپاره د علمي خېړنو سره د بلدتیا په موخه روزنیزو  پروګرامونو چمتو کول. | د دایر شویو ورکشافونو او پروګرامونو تعداد په پنځو کلونو کې. | 25% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/1 | 1402/10/30 | 10% | 5% | 5% | 5% | 400000 | | د خېړنو په برخه کې د پروګرامونو مصارف | د علمي کچې لوړوالی او د تحقیق د کیفیت ښه والی. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 11 | | د مسلکي پرمختیایي PDC مرکز له لارې د استادانو لپاره د OBE-SCL ورکشافونو دایرول. | د دایر شویو ورکشافونو او پروګرامونو تعداد په پنځو کلونو کې. | 20% | بشري مالي او تخنيکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/8/15 | 1402/10/30 | 10% | 5% | 2% | 3% | 875000 | | د OBE-SCL ورکشافونو مصارف | د تدریس د کیفیت ښه والي. | |
| 12 | | د اداري او کادري کارکوونکو لپاره د خارجي ژبو روزنيز پروګرامونه دایرول. | د دایر شویو ورکشافونو او پروګرامونو تعداد په پنځو کلونو کې. | 25% | بشري مالي او تخنيکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/12/5 | 1402/12/15 | 10% | 5% | 5% | 5% | 450000 | | د خارجي ژبود روزنيز پروګرامونو مصارف | د بهرنیو ژبو سره بلدتیا | |
| 13 | | د اداري او کادري کارکوونکو لپاره د راپور لیکني او پلان جوړوني روزنيز پروګرامونه جوړول. | د دایر شویو ورکشافونو او پروګرامونو تعداد په پنځو کلونو کې. | 16% | بشري مالي او تخنيکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/8/12 | 1402/9/3 | 4% | 4% | 4% | 4% | 74000 | | د پلان جوړوني او راپور لیکني پروګرامونو مصارف | د پلانونو په ښه ډول جوړښت | |
| 14 | مؤسسې ستپ ته د ټکنالوژي په برخه کې کار کول. | د معلوماتي ټکنالوژي په برخه کې د کسانو روزل. | د کسانو تعداد | 20% | بشري مالي او تخنيکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/10 | 1402/11/15 | 1402/12/12 | 5% | 5% | 5% | 5% | 150000 | | د معلوماتي ټکنالوژي لپاره د کسانو د روزلو مصارف | د مؤسسې سره په لوړه ټکنالوژي کې مرسته کول. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 15 | | د برښنايي کتابتون ايجادول. | د فعاليت د پرمختګ سلنه. | 70% | مالي او تخنيکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/30 | 1402/10/30 | 1402/11/15 | 20% | 20% | 15% | 15% | 150000 | | د برېښنايي کتابتون لپاره مصارف | آنلاين منابعو ته لاس رسی. | |
| 16 | ه ملي او نړيوالو پوهنتونونو او اداراتو سره تفاهم ليکونه او اړيکي جوړول | د هند هيواد Agricultural research Indian Institute پوهنتون سره د ګډو همکاريو تفاهم ليک لاسليکول. | تفاهم ليک | 50% | بشري مالي او تخنيکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/15 | 1402/9/5 | 1402/10/30 | 20% | 10% | 10% | 10% | 500000 | | له اړوند پوهنتون سره د ارتباط او تړون کولو لپاره د سفرونو او نورو اړونده سهولتونو اماده کولو لپاره مصارف | له نوموړي پوهنتون سره د ګډو علمي همکاريو ترسره کول. | |
| 17 | | له افغانستان د زراعتي علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون سره تفاهم ليک او اړيکې جوړول. | تفاهم ليک | 100% | بشري مالي او تخنيکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/10 | 1402/7/10 | 1402/8/25 | 70% | 10% | 10% | 10% | 50000 | | له اړوند پوهنتون سره د ارتباط او تړون کولو لپاره د سفرونو او نورو اړونده سهولتونو اماده کولو لپاره مصارف | له نوموړي پوهنتون سره د ګډو علمي همکاريو ترسره کول. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 18 | | د پکتیا پوهنتون سره تفاهم لیک لاسلیکول. | تفاهم لیک | 30% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/20 | 1402/9/25 | 1402/10/9 | 10% | 10% | 5% | 5% | 50000 | | له اړوند پوهنتون سره د ارتباط او ترون کولو لپاره د سفرونو او نورو اړونده سهولتونو اماده کولو لپاره مصارف | له نوموړي پوهنتون سره د ګډو علمي همکاریو ترسره کول. | |
| 19 | | د کابل افغان نړیوال پوهنتون سره تفاهم لیک او اړیکې جوړول. | تفاهم لیک | 40% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/16 | 1402/9/15 | 1402/10/15 | 10% | 10% | 10% | 10% | 70000 | | له اړوند پوهنتون سره د ارتباط او ترون کولو لپاره د سفرونو او نورو اړونده سهولتونو اماده کولو لپاره مصارف | له نوموړي پوهنتون سره د ګډو علمي همکاریو ترسره کول. | |
| 20 | | د کابل پوهنتون سره تفاهم لیک او اړیکي جوړول. | تفاهم لیک | 80% | بشري مالي او تخنیکي | علمي معاون | د لوړو زده کړو وزارت | 1401/10/10 | 1402/9/9 | 1402/10/25 | 20% | 20% | 20% | 20% | 70000 | | له اړوند پوهنتون سره د ارتباط او ترون کولو لپاره د سفرونو او نورو اړونده سهولتونو اماده کولو لپاره مصارف | له نوموړي پوهنتون سره د ګډو علمي همکاریو ترسره کول. | |
